# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**19قوس _سال 1401**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**د مهاجرینو چارو وزیر د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي سره ناسته وکړه -------------------------------------- 1**

**وزیر امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان به پنجشیر سفر کرد------------------------------------------------------------ 2**

**مسلکي مرستیال: د راستنېدونکو او بېځایه شوو د دوامدره حل لارو په خبره کې د اړوندو بنسټونو همغږي موثره ده -- 3**

**به صد ها خانواده در بدخشان مساعدت نقدی صورت گرفت ------------------------------------------------------ 4**

**نورستان کې (۱۰۰) کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې وشوې -------------------------------------------------------- 5**

**صد ها خانواده در پکتیکا مساعدت شد------------------------------------------------------------------------------- 6**

**له زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ---------------------------------------------------------------------- 6**

**برنامه ارتقا ظرفیت در ریاست امور مهاجرین ولایت خوست دایر شد---------------------------------------------- 7**

**څلور افغان ځوانان د ایران سرحدي ځواکونو په ډزو وژل شوي -------------------------------------------------- 8**

**فرانسه: یو شمیر افغان قاچاقچیان چې کډوال یې بریتانیا ته لېږدول نیول شوي--------------------------------------10**

**په آلمان کې سږکال د نوو پناه غوښتونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته نژدې شوی --------------------------------------------11**

**خودکشی مهاجر افغان در پی رد درخواست پناهندگی در ژنو--------------------------------------------------------13**

**یک مهاجر 18 ساله افغان پس از صدور حکم رد درخواست پناهندگی توسط دادگاه محلی در ژنو خودکشی کرد 13 -----------------------------------------------------------------------------------------------------**

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزیر د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي سره ناسته وکړه

د وزارت وېب پاڼه



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمان حقان ي د اروپایي کونسل غړي، د اسلینډ هېواد د پارلمان استازي او د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي ښاغلي بیرګیر سره، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو استازولۍ "یوناما "مرستیالې آغلې ایلن او د افغانستان لپاره د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ یونیسار رئیس ښاغلي لیونارد زولو یې هم ملتیا کوله؛ په خپل کاري دفتر کې ولیدل**

**په دغه ناسته کې د بشري مرستو په زیاتوالي، راستنېدونکو لپاره د کارموندنې، معیشیت او د ښارګوټو جوړونې په اړه خبرې وشوې**

**ښاغلي حقاني وویل: د مهاجرت د مخنیوي لپاره باید مهاجرت علتونه له منځه یوړل شي او تر اوسه زور هیڅ پایلې نه دي لرلې باید نړیوال د تعامل لاره خپله کړي**

نوموړي زياته کړه، د افغانستان نا امنه کېدل ټولې نړۍ ته ګواښ پېښوي، او ددغه ګواښ د مخنيوي لپاره د قانون تطبيق او د حدودو پلي کول يو اړين ګام دی

ښاغلي حقاني وويل: د ا. ا. د نجونو زدکړو ته ژمن دی، په تېر شل کلن اشغال کې ۶۰ فيصده مېرمنې د نا امنۍ او زوروني له امله له زدکړو او هرډول حقوقو بې برخې وې اوس ا. ا. مکلف دی، چې د خويندو لپاره خوندي چاپېريال برابر کړي ترڅو دوی له ټولو حقوقو برخه منې شي

## وزیر امور مهاجرین و عودت‌کنندگان به پنجشیر سفر کرد

آریانانیوز



وزیر امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان با محسن هاشمی، والی پنجشیر و سایر مسوولین ادارات دولتی، موسسات و متنفذین این ولایت دیدار کرده است.

خلیل الرحمن حقانی اخیراً طی سفری به ولایت پنجشیر و در دیدار با مردم و مقام‌های این ولایت گفته است که امارت اسلامی با هیچ گروه، قوم و زبان دشمنی ندارد و اگر دشمنی هم وجود داشت بخاطر اشغال بود که فعلاً پایان یافته است.

آقای خلیل الرحمن حقانی در این ملاقات ضمن تبریکی پیروزی امارت اسلامی و تحکیم نظام اسلامی، از مردم و مسوولین پنجشیر خواست که با روحیه برادری، دوستی، صمیمیت و اطمینان خاطر درکنار هم به زنده‌گی ادامه دهند.

**آقای حقانی خطاب به کسانی که در مقابل امارت اسلامی *می‌جنگند* می‌گوید از جنگ دست بردارند و به مردم خدمت کنند و در آبادی کشور سهیم باشند.**

**وی همچنان در این دیدار تأکید کرد که دشمنی، جنگ و مبارزه به خاطر تحکیم نظام اسلامی، تأمین امنیت، دفاع از تمامیت ارضی و ختم اشغال بود و با تحکیم نظام اسلامی، دلیلی برای دشمنی باقی نمانده است.**

**وزیر امور مهاجرین با تشکری از همکاری موسسات کمک‌کننده، از آن‌ها تقاضای مساعدت‌های بیشتر را در تمام کشور و به‌خصوص برای باشنده‌گان پنجشیر نمود و تأکید کرد که سروی و توزیع باید در تفاهم و هماهنگی با وزارت امور مهاجرین و ادارات ذیربط صورت گیرد و هیچ موسسه‌ای حق سروی و توزیع خودسرانه را ندارد.**

**وی نیز از اداره امور مهاجرین پنجشیر دیدن کرد و برای جلوگیری از فساد، حل مشکلات عودت‌کننده‌گان وبیجاشده‌گان هدایات لازم را داد.**

## مسلکي مرستیال: د راستنېدونکو او بېځایه شوو د دوامدره حل لارو په خبره کې د اړوندو بنسټونو همغږي موثره ده

دوزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د راستنېدونکو او بېځایه شوو د دوامداره حل لارو د همغږۍ ناسته ترسره شوه.

دغه ناسته پنجشنبه د لیندۍ په (۱۷) مه د مهاجرینو چارو وزارت کې ترسره شوه، چې پکې د همغږیو د رامنځته کولو، د دندو د لایحې نهایي کولو او د دوامداره حل لارو د کاري ډلې د رامنځته کولو په اړه خبرې وشوې.

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د راستنېدونکو او بېځایه شوو د دوامداره حل لارو د کاري ډلې رامنځته کول او د ملي او نړیوالو مرستندویه بنسټونو حضور د راستنېدونکو او بېځایه شوو د بیا یوځای کېدو په برخه کې مهم وباله ویې ویل،چې د پراختیایي پروژو پلي کول او د مرستندویه بنسټونو بشپړه همغږي کولای شي، چې د راستنېدونکو او بېځایه شوو د دوامداره حل لارو په خبره کې ګټوره ثابته شي.

په پام کې ده، چې د غه کاري ډله د څو ملي او نړیوالو بنسټونو په غړیتوب او همغږۍ جوړه شي، ترڅو بېځایه شوو او راستنېدونکو ته د ستونزو د حل په موخه خدمات وړاندې کړي.

## به صد ها خانواده در بدخشان مساعدت نقدی صورت گرفت

ویب سایت وزارت



**یاست امور مهاجرین وعودت کننده گان ولایت بدخشان از مساعدت نقدی برای 520 خانواده  درولسوالی تشکان به تاریخ 16 قوس خبرداد.**

**مساعدت یادشده مبلغ 16 هزار افغانی پول نقد ازجانب موسسه  CONCERNبوده که  با حضور نماینده ریاست  امور مهاجرین توزیع گردید**

## نورستان کې (۱۰۰) کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې وشوې

دوزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له لورې په نورستان کې ( ۱۰۰) کورنیو سره د لیندۍ په (۱۶) مه د خوراکي توکو مرستې وشوې.**

**یادو کورنیو هرې  کورنۍ ته (۲۵) کیلو وریجې ووېشل شوې.**

## صد ها خانواده در پکتیکا  مساعدت شد

ویب سایت وزارت




**برای 386 خانواده  بیجاشده ، و نیازمند در ولسوالی های برمل ، متاخان ، گیان ، ارگون ومحلات مرکز ولایت پکتیکا به  تاریخ 16 قوس  کمک نقدی توزیع شد.**

**کمک مذکور مبلغ 26 هزار افغانی جهت ایجاد شغل های کوچک از جانب موسسه UNHCR بود که در هماهنگی با اداره مهاجرین توز یع گردید.**

## له زرو زیات  افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت




**د نیمروز ولایت د وربښمو پل له لارې د ایران څخه د لیندی په ( ۱۵) مه ( ۱۲۲۲) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.**

**په یادو راستنېدونکو کې (۴۷) کورنۍ چې (۱۹۲) تنه کېږي (۱۰۳۰) تنه نور مجردین ول، چې له ډلې یې (۳۴) کورنۍ (۷۰) تنه نارینه، ( ۷۵) تنه ښځینه د ( ۲۳۸) تنو مجردینو سره د مرستو په موخه د (IOM) نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول.**

## برنامه ارتقا ظرفیت در ریاست امور مهاجرین ولایت خوست دایر شد

ویب سایت وزارت



**برنامه ارتقا ظرفیت توسط هیأت اعزامی وزارت امور مهاجرین وبه کمک دفتر UNHCR، برای کامندان اداره امور مهاجرین ولایت خوست به تاریخ 15 قوس دایر شد.**

**در این برنامه، از طرف هیأت اعزامی، شیوه نگارش مکتوب، استعلام، پیشنهاد، گزارش، ارزیابی کارمندان، اجرای فورم های مختلف مالی وحسابی، تدریس شد.**

## څلور افغان ځوانان د ایران سرحدي ځواکونو په ډزو وژل شوي

کډوال نیوز



په افغانستان کې د باختر خبري آژانس خبر ورکړی چې څلور تنه افغانان د ایران د سرحدي ځواکونو په ډزو هغه مهال ووژل شول چې د دوی په موټر ډزې وشوې. په دغه پیښه کې ۱۳ تنه نور ټپیان دي.

یاده پیښه سه شنبه ناوخته، د ډسمبر په ۶مه، د سیستان بلوچستان ایالت د « خاش و سراوان» په سیمه کې رامنځ ته شوې.

سرچیني لیکلي چې د ایران پوځي ځواکونو د هغو افغان کډوالو پر موټر د لارې په اوږدو کې ډزې وکړې چې غوښتل یې په ناقانونه ډول د ایران خاورې ته د ننه شي.

د ایران د سیستان بلوچستان او نیمروز ولایت چارواکو رسنیو ته ویلي چې د پوځیانو په ډزو کې ۴ ځوانان مړه شوي او ۱۳ نور ټپیان دي.

د پېښې عیني شاهدان ویلي چې د ایراني سرحدي ځواکونو له ډزو وروسته د افغان کډوالو موټر له سړکه واوښت او چپه شو .

ایران ته پر لار د دغه هیواد د سرحدي ځواکونو او پولیسو لخوا دا ډول چنلد، لومړنی پیښنه نه ده بلکه دې وړاندې هم له افغانانو سره د تاوتریخوالو ګڼې پیښنې ثبت شوي.

له ایران سره پر پوله د نیمروز ولایت چاړواکو تیره اونۍ ویلي و چې په تیرو شپږو میاشتو کې ۹۲۵ افغان ماشومان له ایران څخه په زوره ایستل شوي دي. ګڼ شمیر دغه ماشومان له پولې څخه په ناقانونه ډول د اوښتو پر مهال له خپلو کورنیو بیل شوي خو ځیني نور بیا د کار لپاره ایران ته له تګ څخه بیرته ګرځول شوي.

نور ولولئ :<u>له ۹۰۰ څخه ډیر افغان ماشومان په ۶ میاشتو کې له ایران څخه ایستل شوي</u>

په افغانستان کې بې وزلي او د کار روزګار نشتوالی ګڼ شمیر افغان ځوانان دې ته اړ باسي تر څو ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان ته د کار لپاره په قاچاقي لارو له خطره ډک سفر پیل کړي. د راپورونو له مخې د طالبانو له واکمنۍ راهیسې ایران ته په قاچاقي توګه د ځوانانو او ماشومانو په تګ کې ډیروالی راغلی.

## فرانسه: یو شمیر افغان قاچاقچیان چې کډوال یې بریتانیا ته لیږدول نیول شوي

کډوال نیوز



فرانسوي چارواکو د څلور تنو افغانانو په ګډون یو شمیر قاچاقچیان چې د فرانسي له کالي بندري ښار څخه په وړو کښتیو کې افغان او پاکستاني کډوال بریتانیا ته قاچاق کول، نیولي دي. قاچاقچیانو د دغه کار لپاره له هرکس څخه ۳۵۰۰ یورو ترلاسه کول.

چارواکو هغه مهال د دغې شبکې په اړه خبر شول چې د اکتوبر په ۲۸ مه، بریتانیا د تګ پرمهال یوه کښتۍ چې ۳۵ تنه په کې سپاره ول له سمندر څخه و ژغورل.

یاده ډله د سه شنبې په ورځ د فرانسي د ناقانونه کډوالۍ سره د مبارزې اداری لخوا و نیول شول.

پولیسو د پنجشنبې په ورځ د» لو پاریزین «خبرې وېپاڼې ته ویلي چې د قاچاقچیانو دغه شبکه یو شمیر افغانان او پاکستانیان چې غوښتل بریتانیا ته ولاړ شي، پاریس ته نږدې په یوه ودانۍ کې ځای پر ځای کړي و تر څو د فرانسې بندري ښار کالي او بیا له هغه ځای یې په وړو کښتیو کې بریتانیا ته ولیږدوي. پولیسو ویلي چې دغه کډوال د خپلو مصارفو او قاچاقبرو ته د پیسو د برابرولو لپاره سګریټ خرڅول.

د پولیسو په دغه عملیاتو کې د سه شنبې په ورځ د ډسمبر په ۶ مه، ۲۹ افغانان او ۲ پاکستانیان پاریس ته نږدې د Stainsپه سیمه کې له یو وړوکی کور څخه موندل شوي. د دغو کسانو له ډلې ۱۰ تنه یې چې قانوني اسناد نه درلودل اداري توقیف ته استول شوي او پاتي نور پناه غوښتونکي دي.

نور ولولئ:فرانسه: محکمې پنځه قاچاق وړونکی په بند محکوم کړي

د معلوماتو له مخې د قاچاقچیانو دغه ډله، بریتانیا ته په وړو کښتیو کې د هر ځل سفر د تظیمولو له لارې له ۷۰ څخه ۸۰ زره یورو ګټه ترلاسه کوله.

له فرانسي څخه په ناقانونه ډول بریتانیا ته د کډوالو اوښتل په دې وروستیو کې خو را ډیر شوی. د روان کال په پیل څخه نږدې ۴۲ زره کډوال په وړو کښتیو کې ځانونه د بریتانیا سواحلو ته رسولي چې تیرکال بیا یوازې ۲۸۵۰۰ کډوال له همدغې لارې بریتانیا ته رسیدلي و.

## په آلمان کي سږکال د نوو پناه غوښتونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته نژدې شوی

کډوال نیوز




په روان کال کې په آلمان کې د ثبت شوو نوو پناه غوښتونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته نژدې شوی دی. دغه شمیرې د بامف اداري خپاره کړي دي.

د کډوالۍ او پناه غوښتنې لپاره د آلمان فدرالي اداري بامف د چهارشنبې په ورځ خپل نوي اعداد او شمېرې خپرې کړې. په دغو کې راغلي چې د روان ۲۰۲۲ کال له جنوری بیا تر نوامبر میاشتې پورې په دغه هیواد کې ۱۸۹۹۹۸ د پناه نوي غوښتنې شوي دي. په راپور کې راغلي دي چې په دغه کال ۲۴۲۵۵ تعقیبي پناه غوښتنې هم شوي دي. د بامف په وینا په دې توګه سږکال د ثبت شوو پناه غوښتنو شمېر د تېرکال په پرتله ۴۳،۲ فیصده زیات دی.

د بامف په راپور کې راغلي دي چې یوازې د نوامبر په میاشت کې د لومړیو پناه غوښتنو شمېر ۲۹۳۸۳ وو. ویل شوي چې په روان کال په یاده میاشت د نورو ټولو میاشتو په پرتله زیات شمېر د پناه غوښتنې وشوې. زیاته شوې که د پناه غوښتنو شمېرې په همدې کچه پاته شي نو ښایي د کال تر پای پورې په ټولیزه توګه ۲۰۰ زرو ته ورسیږي .

د کډوالۍ او پناه غوښتنې لپاره د آلمان دغه فدرالي آژانس په خپل راپور کې لیکلي دي چې په ۲۰۲۲ کال چې کومو کسانو پناه غوښتنه کړې، د هغوی اکثریت له سوریې، افغانستان او ترکیې څخه دی.

د آلمان په مرکزي پارلمان بُندستاګ کې د حزب اختلاف د مسیحي سوسیال ګوندي فراکسیون رئیسي اندریا لیندهولڅ د مخ په زیاتېدونکو پناه غوښتنو په هکله اندېښنه څرګنده کړې ده. د فرانس پریس خبري آژانس په وینا دغې سیاستوالې په برلین کې وویل: «د اګست د میاشتې په پرتله د پناه نوو پناه غوښتنو شمېر دوه چنده او د اپریل میاشتې په پرتله تقریبا

**درې چنده زيات شوی دی.» دغې سياستوالو د آلمان پر ائتلافي حکومت بړغ وکړ چي د مهاجرت په تړاو خپل سياست کي بدلون راولي. هغې يادونه وکړه چي آلمان سږ کال ۱،۱ مليون اوکرايني مهاجرو ته هم ځای ورکړی دی.**

## خودکشی مهاجر افغان در پی رد درخواست پناهندگی در ژنو

رادیوصدای ترکیه

**یک مهاجر 18 ساله افغان پس از صدور حکم رد درخواست پناهندگی توسط دادگاه محلی در ژنو خودکشی کرد**




**یک مهاجر افغانستانی که برای درخواست پناهندگی از یونان به سویس رفته بود، پس از صدور حکم اخراج توسط دادگاه محلی در ژنو خودکشی کرد.**

**بر اساس اخبار تلویزیون دولتی RTS سوئیس، علیرضا 18 ساله که سال گذشته برای درخواست پناهندگی به ژنو رفته بود، مدتی بود که با یک خانواده زندگی می کرد و در حال یادگیری زبان فرانسه بود.**

**دادگاه ژنو علیرغم سازگاری علیرضا با محیط، رای به اخراج و بازگرداندن وی به یونان داد.**

**پس از صدور حکم مشخص شد که علیرضا در 6 دسامبر خودکشی کرده است.**

**مقامات اداره مهاجرت ژنو ظاهراً هشدار پزشکان مبنی بر تمایل علیرضا به خودکشی را نادیده گرفتند.**

**پس از انتشار خبر خودکشی این پناهجوی افغانستانی، هزاران نفر در خیابان بل ایر ژنو تظاهرات کردند.**

**شرکت کنندگان در این تظاهرات از جمله افراد افغانستانی الاصل با شعار «ما عدالت می‌خواهیم» به تصمیم دادگاه ژنو واکنش نشان دادند.**